# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| Political | سیاسی |
|---|---|



د افغانستان د زیارکښانو ټولنیز انجمن


د ۲۱۰۴ د مى لومړى نیټه

## د مى لومړی ورځ

## د زیارکښو کارګرانو د مبارزې او يووالي ورځ

د مى لومړى ورځ د نړۍ د ټولو زيارکښو کارګرانو د مبارزې، يووالي او پيوستون ورځ ده. د خلاصون لپاره مبارزه، د پانګوالى له زبيښاک څخه د ژغورنې لپاره يووالى او د کارګرو او زيارکښانو د سياسي واکمنتيا لپاره هڅه د دې ورځې د لمانځنې او تجليل منځپانګه او ماهيت جوړوي.

دا شکوهمنده او پرتمينه ورځ په داسې حال کې زمونږ په هيواد کې لمانځل کيږي چې د کارګرانو او د نورو بيوزلو زيارکښانو اصلي دښمنان يعنى د پانګوالى او سرمايه دارى زبيښاکه نظام د خپلو لښکرو، ټانکونو، شوبلو او طيارو سره هره ګړۍ جنايت کوي او تر اوسه يې په زرګونه کارګران او زيارکښان وژلي دي. دا ورځ په داسې بدمرغه افغانستان کې لمانځل کيږي چې د خارجي ستمګرو سرتيري او د هغوې کورنې لوټماره دوستان هره شيبه د کارګرانو او زيارکښانو پر کورونو بمونه اچوي، په زندانونو کې يې شکنجه کوي، پر اولادونو يې جنسى تيرى کوي او ميرمن يې ورته په سپو داړي.

د مى لومړى ورځ د پانګوالانو د زبيښاک او استثمار په وړاندې د مبارزې د ګرنديتوب ورځ ده. د هغو پانګوالانو د زبيښاک په وړاندې چې د ورګو په شان د بيوزلو وينه خوري او کارګران او زيارکښان په بيرحمى لوټي. خو په افغانستان کې دا ورځ د پانګوالانو او لوټمارانو تر څنګ د بهرنې استعمار او د هغوې د مريیانو په وړاندې د کارګرانو او د نورو زيارکښانو د مبارزې او يووالي ورځ ګڼل کيږي، ځکه دا بهرنى استعمار دى چې دننه په افغانستان کې د کارګرانو او زيارکښانو له دښمنانو ملاتړ کوي او کارګران او زيارکښان په بيرحمى ځپي.

د مى لومړى ورځ په داسې حال کې لمانځو چې يوه ورځ دمخه د سمنګان ولايت د دره صوف ولسوالى د دهن تور د سيمې د سکرو په کان کې د يوې چاودنې له امله نژدې ۲۰ بيوزله کارګران مړه شول او بيغرته او لوټمار پانګوال د نورو کارګرانو له غچه ځان پټ کړ. دا په دغه ولايت کې په تيرو شپږو مياشتو کې دويمه پيښه ده چې د کارګرانو ژوند اخلي. شپږ مياشتې وړاندې د رويى و دو آب ولسوالى د آبخورک په سيمه کې د سکرو د يوه کان د ښوييدو له امله ۲۷ کارګران مړه او ۳۰ نور ټپيان شول.

يادي بيلګي په ښه توګه په ښکيلاک شوي افغانستان کي د کارګرانو تريخ او دردناکه ژوند ښکاره کوي. د دي ډول جنايتونو تر څنګ، څرنګه چي ويل شول بهرني ستمګران هم هره ورځ کارګران او زيارکښان وژني او ځوروي. دا ستمونه دوام موندلی شي که چيری کارګران او نور زيارکښان په يووالي او پيوستون د ژغورني پر لاره لاړ نشي.

د افغانستان د زيارکښانو ټولنيز انجمن باور لري چي کارګران د يوې شرافت لرونکي طبقې په توګه يوازې او يوازې هغه وخت له بيلابيلو ستمونو او جنايتونو خلاصيدای شي چي له نورو زيارکښانو سره يوځای او په پيوستون د لوټمارو، ستمګرو او چپاولګرانو په وړاندي په يوه مورچل کي مبارزه وکړي.